س. احمدزی
۲۰۱۰/۰۸/۲۱م

# د ګران هېواد د خپلواکي

## زما ضمیر په ماشومتوب کې خپلواکي غوښتله
## مور به تړلم په سوزني ما به په چغو ژړل

خپلواکي د خدای پاک یو سپېڅلی نعمت دی، چې هر چا ته یې دا حق ورکړی دی تر څو په خپلواک او آزاد ډول ژوند وکړي، نو له همدې امله د نړۍ ټول هېوادونه د خپلواکۍ حق لري او باید چې خپلواکه واوسي.
زه به دلته د خپلواکۍ پېژند تاسو ته وړاندې کړم:
خپلواکي د نورو له کنټرول، اغیز او ملاتړ او مرستې پرته آزاد حالت دی.
استقلال یا خپلواکي: آزادي لرل، په آزادي کار کول، د نورو له لاس وهنې پرته د خپل کار اداره کول دي.
په همدې توګه آزادي: د مریيتوب خلاف ده او آزاد، حلالوني (حلال زېږدی) آر (اصیل) او هغه څوک چې له هر راز تړاو لرې وي.
خپلواکي که هر مهال د هغه وخت له شرایطو سره تعریف شي او بېلابېلې شننې پرې وشي، خو آر یا اصلي جوهر یې هماغه د نورو له یوغ او اغېز پرته د خپل واک او اختیار لرل دي.
په همدې خاطر زموږ ګران هېواد افغانستان هم د هغو هېوادونو له ډلې څخه دی، چې خپلواکه دی او دغه خپلواکي یې په ۱۹۱۹ عیسوي کال د جون د میاشتې په دریمه نېټه د امان الله خان د واکمنۍ په وخت کې تر لاسه کړې ده، چې انګریزانو په هغه وخت کې له دریو خوا څخه (ننګرهار، پکتیا او کندهار) څخه په افغانستان تیری وکړ او د افغانستان غیرتمن ولس په زغرده د هغوی دفاع دهمدغو دریو مورچلونو څخه وکړه او نه یوازې خپل هېواد ته یې د خپلواکۍ ویاړ ور په برخه کړ بلکې د نړۍ ډېرو نورو هېوادونو ته یې هم د دغه نعمت تر لاسه کول ورزده کړل او ځینې خو یې له خپل ځان سره خپلواکه هم کړل.
راځئ، چې خپلو مشرانو دغه له ارزښت ډکه ډالۍ همداسې وساتو او پرېنږدو، چې پردي زموږ په منځونو کې بېلوالی جوړ کړي او موږ بیا یو ځلې هماغه حالت ته ورستانه کړي.
زموږ هېواد او سمهال د ډول ډول توطیو ښکار دی او موږ په خپله په دې نږدې ورځو کې وینو چې دښمنان مو څه ډول د خپلو شومو موخو د ترلاسه کولو په پار کاروي، راځئ د همدغې ویاړلې یانې د هېواد د خپلواکۍ د ورځې نه د خپل هېواد په بیارغنیزه پروژه کار وکړو او تر خپلې وسې پورې خپل هېواد ته یو څه وکړو، بیا به موږ ټول یو افغان یادېږ، پردي به زموږ د بېلوالي وس ونه لري او نه به په خپل ذهن کې زموږ د بربادۍ خاکه جوړه کړای شي، دا کار یوازې هغه وخت کېدای، چې موږ په رښتیني توګه تر یوه بیرغ، یوه ملي سرود او یوه نوم چې افغان دی لاندې راټول او په یوه خوله ووایو چې موږ افغانان یو او ورسره ورسره لکه څنګه چې په یوه کور کې تر هغه وخته یووالي نه شي راتلای، تر هغو چې مشر او کشر ونه پېژندل شي، مشر په کشر مهربانه نه شي او کشر د مشر احترام ونه کړي، که دا واړه کارونه ترسره شي نو هغه کور به بیا بلاتشبه جنت وي، راځئ چې د خپل هېواد څخه همداسې دنیایي جنت جوړ کړو او دا جنت یوازې او یوازې زموږ په یووالي او بیا د مشر او کشر د حقونو او احترام په ترسره کولو کې خوندي دی.
او بیا به دغه ورځ د تل لپاره ویاړلې نمانځو او زموږ راتلونکی نسل به پر موږ ویاړي، خو له بده مرغه، چې اوسمهال زموږ هېواد د دغې ویاړلې ورځې په اهمیت ځان نه پوهوي او دا ورځ یا هېڅ نه نمانځي او یا یې یوازې د یو څو توپونو په غړونو زموږ خپلواکي نمانځي او یا یې هېڅ نه نمانځي نو زموږ راتلونکی نسل به د خپلو تېرو اتلانو په اړه څنګه پوه، که موږ داسې ویاړلې ورځې ونه نمانځو.

او دا ورځ چې د زمري (اسد) د میاشتې د ۲۸ سره سمون خوري باید هر وخت ونمانځو تر څو موږ او زموږ راتلونکی نسل د خپلواکۍ په ارزښت ځان پوه کړي او دا ارزښت وپېژني. خپلې خبرې په دې شعر پای ته رسوم.

آزادي تر باشاهیه لا تېرې کا
چې د بل تر حکم لاندې شي زندان شي
د تلپاتې خپلواک افغانستان په هیله

**من**
**به دو چیز عشق می ورزم؛**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**یکی تو و دیگری**
**وجود تو**
**به دو چیز اعتقاد دارم؛**
**...یکی تو و دیگری**
**مهر تو**
**در این جهان دو چیز رو می خواهم؛**
**یکی تو و**
**دیگری شادی تو!**
**این جهان را برای دو چیز می خواهم؛**
**یکی تو**
**و دیگری برای با تو موندن تا همیشه**

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ